# په افغانستان کی دناټو روزنیز ماموریت

## اوږه په اوږه




NTM-A
NATO Training Mission
AFGHANISTAN

د ۲۰۱۲ کال د اګست دمیاشتی شپږمه ګڼه



پدی گنه کی | مخ
---|---


دسیمه ایزه پوځی روزنیزمرکز چاری افغان ملی پوځ ته وسپارل شوی. ۳
دکابل د اور وژنی مرکزی مرکز په رسمی توګه پرانستل شو ٤
دمورهیډ دانګلیسی ژبی روزنیز مرکزمشری چا ری افغانانو په غاړه واخیستی ٥
افغان ښځینه و د جنسیت(جندر) د توپیرله منځه وړلو په موخه روزنی ترلاسه کړی ۷
دجنایی جرمونو پروړاندی د مبارزی ریاست دا منی چی ښځینه حقوقی سلاکارنو ته اړتیا شته دی. ۹
ناټو دپولیسو روزنیزمزکز افغان چارواکو ته وسپارل ۱۰



قوماندانی

| | | |
|---|---|---|
| په افغانستان کی دناټوروزنیز ماموریت | عمومی قوماندان | ډګرجنرال ډانیل بولجر |
| په افغانستان کی دناټوروزنیز ماموریت | سرپرکمشرقدمدار | جفری هاف |
| په افغانستان کی دناټوروزنیز ماموریت | قوماندانی داړیکو مسئول | ډګرمن ټیم ستاڤر |

دطرحی او دیزان مدیر | پیتی آفسر جوسیف سیوی
د مجلی ډیزاین او ایډیت | اخترمحمد «شینواری»

دمجلی ژباړونکی: په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت او د افغانستان امنیت لیږدونی لپاره د ګډی قوماندانی دعامه اړیکو د فتر اخترمحمد شینواری


دمجلی د لومړی مخ انځور: د می دمیاشتی په ۲۹ نیټه دافغان ملی پوځ د ناچاو دیدونکو توکو دشنډولو زده کوونکو د کابل په ملی پوځی روزنیز مرکزکی دناچاو دیدونکو توکو هغه ټوټی چی د دوی لاسته ورغلی وی په یاد روزنیزمرکزکی د ډزو د مشق پرځای کی د غونډونی پرمهال.

دمجلی پورتنی مخ انځور: دافغان ملی پوځ مشرتوب دکابل د اور وژنی په مرکزی مرکزکی د اور وژنی مرامسمو د پرانستی په بهیرکی د پټی پریکولوپرمهال.(انځور افسر سکاټ بچولز)

دمجلی دوروستی مخ انځور: د اور وژنی کار کوونکو د کابل د اور وژنی په مرکزی مرکزکی داور وژنی نوی وسایل او کړنلاری د اور وژنی د پرانستنی مراسمو په بهیر کی په عملی توګه دځرګندونی پرمهال.



# دخلکو ترمنځ

راپور: په افغانستان کی دناټو روزنیز ماموریت او دافغانستان د امنیت لیږدونی لپاره دګډی قوماندانی عمومی قوماندان ډګرجنرال ډانیل بولجر

ماو زیدانګ دخلکو څخه د دفاع په موخه په جګړه کی ډیری لاسته راوړنی لرلی او نوموړی په یاده جګړه کی ډیر مشهور او کنترولونکی نومول شوی وو. په ۱۹۲۰ او ۱۹۳۰ کلونوکی د مو کمونستی چینايي ګوند هڅه کوله چی د چین په ملی ګوند په دښمنانو باندی بریدونو ته دوام ورکړی او ددی څخه وروسته د جاپان پوځ باندی دمستمری په موخه برید وکړی. په ډیرو کمپاینونو کی د کمونستی ځواک ، د وسلو او د ستراتیژیکو ځایونو دکموالی سره مخامخ و خو په پایله کی دوی په مبارزه کی بریالی شو.

ولی؟ ماو پدی پوی شو چی د چین خلک په زیاته کچه دهغه پلویان و. د جاپان پوځی غنډونه وسلو، تکتیکونو او حتی مهارتی امپراتوری ونه شو کولای چی دهغه پوځ له منځه یوسی چی کمونستانو د اوږدی مودی لپاره د چینايي وګړو باور وساتل. ماو یواځی لومړی سیاسی پوځی مشر نه و چی دا کشف کړی. جورج واشنګټنو دوک ولینګتون او جوسیپ ګاریبالدی دنورو په منځ کی د سن د زمانی ټولی بیرته د راګرځیدو لاری ځارلی چی دا د توزو او الکزندر په زیاته کچه زده کړی وی. مګر ماو ددی احساس درلوده چی ټولی پیښی ولیکی. هغه سرتیری چی نوموړی پیشنهاد کړی وو باید دخلکو په منځ کی هرو مرو داسی حرکت وکړی لکه ماهی چی په سمندر کی لامبو وهی.

ددی ساده جملی ساده مانا په مساوی توګه په هغو کسانو اطلاق کیږی چی د ترهګرو او تروریستانو د ماتی هڅه کوی. دخلکو په منځ کی د جګړی ګټلوپه موخه، سرتیری باید د خلکو باور ترلاسه کړی او دوی سره په ښه سلوک کی کړه وړه وکړی. ددی کار ترسره کول یوځانګړی سلوک غواړی. سرتیری باید د کلیوالو څخه غلا ونه کړی، کورونه یی ونه سوه زوی او حیوانات یی ونه وژنی. دا دخلکو دباور او دځواک د ترلاسه کولولپاره یو نظریه ده. دا کار نن ورځ دافغان پولیسو او پوځ لپاره یوه موخه ده چی ترلاسه یی کړی.

وسلوال طالبان تل هڅه کوی چی د افغان خلکو په منځ کی پټ شی.داتلافی ځواک لپاره دا ډیره ستونزمنه ده چی دوسلوالوطالبانو او د ملکی خلکو ترمنځ توپیر وکړی. مونږ دکب په شان په سمندر کی نه شو تللی. مونږ د هغو انسانانو په څیر چی په سمندر کی د ژوو نیولو او ځارلو هڅه کوی نو مونږ هم تل هڅه کوو چی ورانکاری خلک له منځه یوسو. مونږ ددی مهارت لرو چی دښمنانوسره مبارزه وکړو او لمنځه یی ویسو.

افغان سرتیری او پولیس کلیوالوسره ښه سلوک کوی لکه کب چی په سمندر کی لامبو وهی او په یونیفورم سمبال افغان پوځی چاروکو د سیمه ایزه خلکو باور ترلاسه کړی. مونږ دا کړنی او عملونه څو ځلی لیدیلی دی.هغه سیمی چی پخوا پکی وسلوال طالبان په ازده توګه ګرځیدل اوس افغان سرتیری او پولیس پکی ګزمی ترسره کوی. طالبان په یاده سمیه کی نور کبان نه شی نیولي ځکه چی په یاده سیمه کی د قانون پلی کول او وصول پلی شو . یو کلی چی د افغان ملی امنیتی ځواک لخوا ونیول شو ډیر ستونزمن کارو. دوی دغه لاسته راوړنی د افغان کلیوالو مشرانو او کورنیو په ملاتړ ترلاسه کړی. دا اسان کار نه دی. دا کار مشرتوب روزنی او ډیسیپلین ته اړتیالری. دا ځانګړی سلوکونه زمونږ په پوځی او د پولیسو په روزنیزو مر کزونوکی دقطعاتو په ګډو عملیاتوکی پیل کیږی. زمونږ بیلکی زیاتی ماناګانی ورکوی، خو په پای کی زمونږ افغان ملګری باید حتمن دافغانانو په مرسته او ملاتړ دمشری چاری په غاړه واخلی. افغان سرتیری او پولیس پدی پوهیږی چی هره ورځ زمونږ په مرستی سره، دوی دخپلو هیوادوالو باور ترلاسه کوی. لکه ماو- دوی د خلکوپه منځ کی بریا ترلاسه کولای شی.

اوږه په اوږه مجله دامریکا د دفاع وزارت او دافغانستان امنیت لیږدونی دګډی قوماندانی خپرونه ده. دغه خپرونه په افغانستان کی دناټو روزنیز ماموریت دعامه اړیکو دفتر چی په کابل کی دایګرز په کمپ کی موقعت لری خپریږی. د امریکا دفاع وزارت د۵۱۲۰،۴ لارښوونی مطابق دغه مجله د امریکا دمتحده ایالاتو پوځیانو لپاره چی دامریکا څخه دباندی میشت دی قانونی خپرونه ده. دیادی مجلی محتویات دامریکا د دولت لخوا په قطعی توګه نه دی منظور شوی.

دچټک ځواب په موخه، د برقی بارکوډ نمبر ۲- ډی دی د موبایل له لاری تاسی کولای شی چی سکن یی کړی او کولای شی چی د لا زیاتو معلوماتو او په ژوندی بڼه محتویات وګوری

# دکابل د اور وژنی مرکزی مرکز په رسمی توگه پرانستل شو

راپور: په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت دعامه اړیکو ددفتر متخصص سکاټ ای. بچولز

کابل، افغانستان- د ۲۰۱۲ کال د جون دمیاشتی په ۶ نیټه دکابل د اور وژنی مرکزی مرکزکی د پټی د پریکولو مراسم په رسمی توگه پرانستل شو چی داکار په کابل کی د اور وژنی د چارو پیل کول ثرگندوی دی.

داور وژنی مرکز پدی وروستیوکی د افغانستان د دواړو وزارتونو د کورنیو چارو او د د فاع وزارت ترڅارنی لاندی په کار پیل وکړ، چی ددی کړنی به د کابل ښارته هم وغزیږی ځکه چی د کورنیو چارو وزارت اور وژنی وسایلو د کموالی سره لاس او گریوان و.

د افغانستان د دفاع وزارت دهوای ځواک او د افغان ملی پوځ داور وژنی مسول لپاره سلاکار ټاماس ماک وویل،" دا د افغانانو لپاره یوه لویه لاس ته راوړنه وه او د وی د پرمختگ او پراختیا په حال کی دی. "

نوموړی زیاتوی چی ،" زه خوښ یم چی د تاریخ یوه برخه یم، زمونږ زیات شمیر چارواکی نه شی ویلی چی د اور وژنی په مرکزی مرکز کی د پټی دپریکولو مراسم وگوری.

د کاناډا هیواد څخه ډگرمن ټیموتی راډلی وویل، دا لومړی وسایل دی چی د اور وژنی مرکز ته را ورسیده ترڅو د اور اوژنی په برخه کی مرسته وکړی.

مک وویل چی،" دا دافغان ملی پوځ لپاره یوه لویه مرسته ده ځکه چی دا لومړی ځل دی چی افغانانو سره دا مرسته ترسره کیږی. دافغانستان دکورنیوچارو وزرات لا تراوسه وړتیانه لری. دوی لیوال دی چی له ټولو سره یي شریکی کړی ددی لپاره چی دا لومړی وسایل باید له ټولوسره شریک شی او دکورنیو چارو وزارت سره به هم مرسته وکړی. "

مک زیاتوی چی ،" په پایله کی د اور وژنی هر مرکز ته به یاد وسایل ورکړل شی ترڅو دوی تری کار واخلی دایوه لویه موضوع ده ځکه چی د تیرو څو لسیزو په بهیر کی دوی د اور وژنی مناسب وسایل نه درلودل. دوی ډیر لیوال او خوښ دی چی څرنگه یاد وسایل استعمال کړی او په خپله یی ټولی چار پرمخ بوزی.

مک وویل، " روزنه د ډگروال قیوم لپاره لومړیتوب دی. مونږ په معیاری توگه کار کو ترڅو افغانان په خپله ټولی چار ترسره کړی. دا څرگنده ده چی دوی دامریکا، کاناډا او یا د اروپا په معیار کړنی نه شی ترسره کولای، خو مونږ هڅه کوو چی دوی په خپله ددی وړتیا پیدا کړی چی ټولی چاری په خپله ترسره کړی او مشری په غاړه واخلی. "

د افغانستان د دفاع وزارت په خپله هغه موټر په کار اچوی چی د ۲۵۰ څخه تر ۵۰۰ گلنه د اوبو وړتیا ولری او لوی اوشکاش ټی۱۵۰۰ او ټی۳۰۰۰۰- د اور انجن چی په پرله پسی توگه د۱،۵۰۰ گلنه وړتیا ولری. د نری او واړو سړکونو له امله، پمپرز گاډی کولای شی چی د اور ځای ته لاس رسی ولری چیری چی نور اصلی انجونونه نه شی کولای چی د اور ځای ته ولاړ شی.





د اور وژنی کار کوونکو د کابل د اور وژنی په مرکزی مرکزکی داور وژنی نوی وسایل او کړنلاری د یا اور وژنی د پرانستنی مراسمو په بهیر کی په عملی توگه څرگند کړل.

# دسیمه ایزه پوځی روزنیزمرکز چاری افغان ملی پوځ ته وسپارل شوی.

راپور: د اړیکومتخصص کوری روز.

مزارشریف، افغانستان- د جولای دمیاشتی په پنځمه نیټه دافغانستان د مزارشریف په پوځی روزنیزمرکزکی د افغان ملی پوځ لیکوسره د بنسټیزه روزنو فراغت څخه وروسته ۱،۳۰۰ تنه سرتیری دافغان ملی پوځ لیکوسره یوځای شول.

په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت لپاره دکاناډا هیواد څخه دعملیاتو قوماندان مرستیال تورنجرال جمز فیرون وویل،" نهه اونی وړاندی، دسیمه ایزه روزنیزکورس مرکزته ۱۸۶ د داخلیدو په موخه راغلی و." نن ورځ به مونږ دغه مراسم دیوی ډلی دغړو په توګه ولمانځو، چی دا دافغان ملی پوځ دورور ولی او دسرتیرو د یوالی سبب ګرځی."

دمزار شریف په روزنیزمرکزکی د اتلافی ځواکونو د څارنی او سلامشوری دندی د پای ته رسیدوپه موخه د یاد فراغت په پای کی ترسره شو. د یاد روزنیزمرکز ټولی چاری به افغان ملی پوځ مشرانو او ښوونکو ته وسپارل شی.

دکاناډا هیواد څخه یوتن افسر برین مکلنتر وویل،" دوی دی ته چمتو دی چی دچارومسولیت په خپله غاړه واخلی  ځکه چی دوی مسلکی ښوونکی دی او هغه څه خپلوهمکارانوته تدریس کوی چی دوی ورته اړ دی."

د بنسټیزه روزنی کورس نهه اونی په برکی نیسی چی افغان ملی پوځ چارواکی کولای شی چی ددی روزنی د بشپړولو ځّخه ورسته دافغان ملی پوځ لیکوسره یوځای شی او خپل هیواد خدمت جوګه شی. ددی روزنی د بشپړولوڅخه ورسته به نوی سرتیری  په افغانستان کی  پوځی قطعاتوته واستول شی. کله چی دوی نوی قطعاتو ته واستول شو، دوی به غوره مهارتونه ترلاسه کړی چی دا د افغانستان د بریالیتوب لپاره ډیر اړین دی او دوی باید ددی بریالیتوب د ترلاسه کولوپه موخه ډاډ ترلاسه کړی چی دوی خپلی ندی په سمه توګه ترسره کوی.

دافغان ملی پوځ مشری کورس ریس ارکان افسر ننګیالی اندر وویل،" زه پدی ویاړم چی ددی کورس لپاره د ریس ارکان په توګه دنده ترسره کوم." زه د اتلافی ځواکونو دمرستی او همکاری څخه ډیر مننددوی یم."

دهغو سلاکارانو شمیر به چی په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت په چوکاټ دندی ترسره کی په راتلوونکی اونی کی کم شی. دافغان ملی پوځ مشران او ښوونکی به دیاد کورس ټولی چاری په غاړه واخلی.

فیرون وویل، " لاسته راوړنوڅخه باید درناوی وشی. دیادو مهمو کړنو ترسره کونی پرته د مزارشریف د روزنیز مرکز د ښوونکو او قوماندانانو د سختو هڅو او کړنو څخه نا ممکنه وه ځکه چی دوی په مسلکی توګه نه ستړیکیدونکی هلی ځلی ترسره کړی.

دغه روزه نیزمرکز د افغان ملی پوځ بریالیتوب لپاره یوه نمونه ده، او ددی کاربریالیتوب پرته د دوی د سخت کار ،هڅو او ژمنوڅخه د لاسته راوړنی وړنه و."



دافغان ملی پوځ نوی سرتیری د هیواد د شمال سیمه ایزه پوځی روزنیز مرکز کی د فراغت په موخه د چمتوالی پرمهال.  دا د اتلافی ځواکونو وروستی روزنی چی ددوی له لاری ترسره شوی.

څخه ایمل سالارزی ته ورکړه.

سالار زی زیاتوی چی،" زه د امریکایی پوځیانو د مرستی څخه چی په تیریو دری کلونو کی مونږسره وکړی منندوی یم او درناوی کوم چی دوی د افغان کماندو ته په امریکا کی د زده کړی زمینه برابره کړه. دوی به دامریکي څخه بیرته خپل هیواد ته راشي او خپل هیواد به آباد کړی. مونږ به د انګلیسی ژبی زده کړی ته د امریکایي سلاکارنودسلامشوری لاندی دوام ورکړو اوهغه موخی به ترلاسه کړی چی دوی طمه لر ی. زه دی ته چمتو یم چی ټولی اړیتاوی پوره کړم."

دمورهیډ دکمپ د انګلیسی ژبی روزنیز مرکز یوتن ښوونکی برین مکال وویل،" د یاد پړاو د لیږد بهیر په سمه توګه ترسره شوی چی زه یي غوښتونکی وم، ترون لرونکی ښوونکی په یاد ښوونځی کی اوس روزنی په سمه توګه پرمخ بيايي، دوی ډیر لیوال دی، په ډیسیپلین برابر او په خپلو زده کړوکی بریالی دی. مونږ ددی څخه خوند اخولو چی د زده کوونکو بریالیتوب وینو، زه پدی پوهیږم چی دوی به سخت کار وکړی ترڅو بریالیتوب ترلاسه کړی او خپلی دندی په غوره توګه ترسره کړی."

هغه کس چی زما پرځای دیاد ښوونځی د چارو مسولیت په غاړه اخلی په سمه توګه روزل شوی او د یادی دندی لپاره یو ښه شخصیت دی. زه پدی باوری یم چی هغه به په سمه توګه دنده ترسره کړی.

نوموړی زیاتوی چی، "زما دخدت ترسره کول د تیرکال په بهیرکی د کماندو د فاراغت څخه لیدنه ډیره سواغت لرونکی تجربه وه.

دمورهیډ دکمپ د انګلیسی ژبی روزنیزمرکز اومیاشتنی کورس لری چی کله زده کوونکی تری فاریغیږی نو بايد۵۵ نمری ترلاسه کړي وی. که چیری دیاد مرکز زده کوونکی و غواړی چی د امریکي دمتحده ایالاتو د انګلیسی ژبی د دفاعی انستوت کی د انګلیسی ژبه زده کړی نو باید ۸۰ نمری ترلاسه کړی.

دمورهیډ کمپ د افغان ملی پوځ دکماندو کنډکونو روزنی لپاره بسنټیزه مرکزدی.

دمورهیډ د کمپ دکماندو ځواکونو لومړی ټولګی د ۲۰۰۷کال د جولای په ۲۸ نیټه فارغ شو.

په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت د ۳۸ اتلافی ځواک څخه جوړ شوی چی دافغانستان اسلامی جمهوری دولت سره د افغان ملی امنیتی ځوا ک به غښتلوب او پیاوړتیاکی په دوامداره توګه مرسته کوی ترڅو افغان ځواک ددی وړتیا پیدا کړی چی د ۲۰۱۴ کال ترپایه د ټول هیواد امنیتي چارو مسولیت په غاړه واخلی. دلازیاتو معلوماتو په دترلاسه کولوپه موخه دغه ویب پاڼه وګوری www.ntm-a.com.



دافغان ملی پوځ یوتن ډګروال بسم الله وزیری دمورهیډ په کمپ کی د انګلسی ژبی زده کوونکو ته د یاد مرکز د لیږدونی چارو مراسمو په بهیر کی چی د بهرنیانو څخه افغانانوته تسلیمیږی د خبرو اترو پرمهال.

# دمورهيډ دانګليسی ژبی روزنيز مرکزمشری چاری افغانانو په غاړه واخيستی

راپور: په افغانستان کی دناټو روزنيزماموريت د عامه اړيکودفتر د اړيکو متخصص سکاټ ای بوچولز

کابل،افغانستان- د۲۰۱۲ کال دمي دمياشتی په ۱۶ نيټه دمورهيډ دکمپ د انګليسی ژبی روزنيز مرکز چارو د ليږونی ماموريت پای ته ورسيده، دياد روزنيزمرکز دانګليسی ژبی د زده کړی پروګرام چاری افغان چارواکوته وسپارل شوی.

دمورهيډ کمپ د انګليسی ژبی روزنيز مرکز مشهور مرکزدی او دا لومړی ځل دی چی دياد روزنيزمرکز ټولی چاری افغانانو ته سپارل کيږی. د امريکی دمتحده ايالاتو پوځی افسر ډګروال ډيويډ کومارپه يادو مراسموکی وويل،" داسی فکر مه کوی ګواکی تاسی ټول کارونه بشپړ کړل. ددی پرځای تاسی ددی مهمی دندی څخه په کار اخيستوسره بيا خپل ځانونه پياوړی، ژمنی ترسره او د لويوو لاسته راوړنو په لور خپل ځانونو سره د سره فکر او غور وکړی.

همدارنګه، دمورهيډ کمپ د انګليسی ژبی روزنيز مرکز د دندو بشپړيدل لومړی برخه وه چی ترسره شوه، او د ياد روزنيز مرکزټولی چارو مسوليت يی افغانانو ته وسپارل شو.

دامريکی دمتحده ايالاتو پوځی ډګروال بيلی چی دځانګړی عملياتی سلاکاری ډلی پخوانی مشر شا زياتوی چی،" تاسی په خپله په برياليتوب سره ډيره سخته دنده ترسره کړی، زه په تاسی وياړم. "مونږ ټول بايد دلته په خپله ټول کارونه ترسره کړو خوتاسی لومړی کسان ياست چی زما تر قومندی لاندی ټولی دندی ترسره کړی."

شاه زياتوی چی،"لکه څنګه چی د ښوونی او روزنی مشرتوب په صداقت سره تخنيکی ملاتړ کوی، تاسی غوره ملاتړ ترسره کړی. تاسی ټولو دافغان ښوونکو په رامنځته کولوسره په کولتورکی مثبت بدلونونه رامنځته کړل او ددی وړتيا مو هم پيدا کړه چی په افغان پوځ کی پرته د امريکايي چارواکو له څارنی څخه دانګليسی ژبی ښوونی او روزنی ته دوام ورکړی."

کمار دافغان ملی پوځ ډګروال مليک ته د بازمرغه مجسمه د زده کوونکو د درناوی او باورپه موخه چی دوی د ژبی پروګرام په سمه او بريالی توګه پرمخ بيايي د سوغات په توګه نومړی ته ورکړه. ياد سوغات د زغم، مهارتونو، په خپلو ښپو ودريدو او د کمانډو د ارزښتونو د ټولو څرنګوالی نماينده ګی کولوپه موخه د صبر او اوسيلی سمبول په څير ټاکل شوی و. دافغان ملی پوځ ډګروال بسم الله وزيری يو ژباړونکي له قوله وويل،" دری کاله وړاندی ياد کورس د مورهيډ په کمپ کی پيل شو، اوس مونږ په سلګونه شمير افسران او سرتيری لرو چی په ښه توګه په انګليسي ژبه خبری کوی."

وزيری زياتوی چی نه يواځی مونږ انګليسی ژبه زده کوو چی دخپل هيواد او خلکو ملاتړ وکړو، مګرښای په راتلوونکی کی مونږ کوم بل بهرنی هيواد ت ولاړشو، او مونږبه وکولای شو چی دنورو خلکوسره مرسته وکړو لکه په افغانستان کی چی بهرنيان ميشت دی او افغانانو سره مرسته کوی."

دامريکايی چار واکوڅخه افغان اداری ته د دی بهير په نمونوی نښی په توګه د دمورهيډ دکمپ دانګليسی ژبی ښوونځی دکتابونو دروانوکړنلاری د کاناډا هيواد څخه ډګرمن جين ګای ليوسکيو د ياد روزنيزمرکز څارونکي او داويستا علم کمپنی



دمورهيډ کمپ د انګليسی ژبی د روزنيزکورس ټولی چاری افغان چار واکوته وسپارل شوی چی دا کار د ليږدونی بهيريوه څرګنده بيلګه ده، ددی ليږدونی په بهيرکی د کاناډا هيواد څخه ډګرمن ګای ليويسکيو د مورهيډ دکمپ د انګليسی ژبی نوی مشر ايمل سالار زی ته د روانو کړنلارو کتاب ورکونی پرمهال.

د تدریس چاری پرمخ بیایي." دوی هغه څه زده کوی چی ددوی د ندو د ترسره کولولپاره اړین وی او دوی تری په روزنیزبنسټ ګټه واخلی، څنی وخت دو ی فکر کوی چی ګواکی مونږ نه شو کولای چی مناسبی روزنی ترلاسه کړو."

دفاریل وینا سره سم، د ښځینه و کنډک یوه تنه نوماندی افسر کوبرا د سلوک دبدلون او د بارو د زیاتوالی په ړه ځنی بیلګی وړاندی کړی." تاسی کولایشی چی هغه او هالوی وګوری چی د روزنی په بهیر کی به سمه توه دندی ترسره کوی. که څه هم نومووړی مهارت ته پراختیا نه ده ورکړی، مګر د نومووړی هڅی دوام لری."

فاریل زیاتوی چی، ددوی بارو یواځی اړین نه دی چی د مشرتوب مهارتونوته دښځینه سرتیرو ترمنځ پراختیارامنځته کړی مګر دد وی او نارینه و ترمنځ د درناوی خنډ یو مهم کار وچی له منځه ولاړ.

دباور جوړولو روزنه یواځی ددوی لپاره په بنسټیزه توګه د وسلوالوځواکونو لپاره اړین نه دی، مګر د افغان ملی پوځ ښځینه و لپاره  مهمه ده او په ځانګړی توګه د افغان ملی پوځ په لیکوکی د ښځینه و د جنسیت موضوع لپاره."



د کابل په ملی نظامی پوځی روزنیزمرکز کی ښځینه افسرانی د ښځینه و روزنیز کنډک کی د ځان په موخه د دفاع تخنیکونو د زده کړی پرمهال.

# افغان ښځینه و د جنسیت(جندر) د توپیرله منځه وړلو په موخه روزنی ترلاسه کړی

راپور: دکابل ملی نظامی مرکز دعامه اړیکو د دفتر افسر ګیری هانګستلر

د بکس د سکولوجوړی ته په ځیر سره کتل، افغان سرتیرو په چټکی سره دځان ځخه د دفاع چارو روزنی چی د کاناډا هیواد ځخه یوتن سلاکار لخوا دوی ته په بستیزه توګه تدریس کیدی په ښه توګه زده کړی.

دا مقاله غوره مانا لری، که چیری یوتن دی ته پاملرنه وکړی د یو لیسزی ځخه وراندی ښځینه پولیسو سرتیرو یونیفورم نه اغوستل مګر ددی پرځای یی د ځادری ځخه کار اخیسته .

نومړی د یوی وړی ډلی برخه ده مګر دپوځی لیکوسره د ښځینه و شمیر ورځ په ورځ مخ پرزیاتیدو دی، داکار به په ټولنه کی دښځو رول د بدلون په برخه کی مرسته وکړی. دوی دملالی په نوم یادیږی او یا د ښځینه و روزنیزکنډک چی د کابل ملی پوځی روزنیزمرکزځخه فارغیږی، دوی دافغان ملی پوځ په لیکوکی د افسری په توګه دندی ترسره کړی.

داتلافی ځواک یوتن سلاکار افسر سی جی فارل وویل، " لاس په لاس جګړیزه تدریسات ښځینه و ته پرته د وسلو روزنی ورکوی. دوی کولای شی چی په یو کوچنی سیمه کی مبارزه وکړی او خپلو مهارتونوته پراختیا ورکړی ترڅو دوی وکولای شی چی دښمنان له منځه یوسی. دافغان ملی پوځ ښځینه چارواکی په ځانګړی توګه کولای شی چی په ستونزمنو حالاتوکی دخپل ځانونو ځخه دفاع وکړی. "

فزیکی روزنی تل د شل اونیزه کورس کی شاملی دی، مګرد دفاعی مهارتونو لارښوونی په پرتله وی توګه د فزیکی روزنی یوه برخه ده. د دی روزنی اړین عنصر په عادی توګه د ښځو ترمنځ د بار او ډاډ رامنځته کولوته زمینه برابروی او په افغانی ټولنه کی دځوانو ژوندانه ته په پراخه کچه د غوره والی په برخه مرسته کوی.

فاریل د ښځینه و د سلاکاری قطعی یوه غړی ده چی د جوردونیانو، د بریطانیی هیواد افسره اود امریکی دمتحده ایالاتوسمندری ځواک افسران پکی شامل دی.

"دسمندری ځواک چارواکی په بشپړه توګه د ځان ځخه د دفاع روزنی او تخنیکونو



د کابل په ملی نظامی پوځی روزنیزمرکز کی ښځینه افسرانی د ښځینه و روزنیز کنډک کی د ځان په موخه د دفاع تخنیکونو د زده کړی پرمهال.

# ناټو دپولیسو روزنیزمرکز افغان چارواکو ته وسپارل

راپور: دسهیل سیمه ایزه ملاتړ قوماندانۍ د عاماه اړیکو دفتر څخه د امریکې دهوای ځواک افسر جمز بولینګر

دمیک سپن کمپ، افغانستان- د اپریل دمیاشتې په ۲۶ نیټه په افغانستان کې دناټو روزنیزماموریت ملکي چارواکو دافغانستان په سهیل سیمه ایزه ملاتړ قوماندانۍ کې د افغان ملي پولیسو لوی روزنیزمرکز د افغان عامه نظم پولیسو ته وسپارل چې دا د ناټو دامنیت لیږدونې د بهیر یوه برخه ده.

دافغان عامه نظم پولیسو افسر عبدالقیوم د ناټو ځواکونو څخه په لیکلې توګه د یاد روزنیزمرکز ودانۍ، وسایل او د ځمکې دساتلو او پرمخ بیولو مسولیت په غاړه واخیسته.

نوموړي د یو ژباړونکې له قوله زیاتوې چې ،" مونږ به دیادو ودانیو د ساتلو مسولیت په غاړه واخلو. " مونږ به سم او مناسب خلک وټاکو ترڅو دلته په سمه توګه دندې ترسره کړي. "

یاد کمپ د مزار شریف سیمه ایزه روزنیزمرکز په نوم نومول شوی و چې له دې څخه وروسته به د افغان عامه نظم پولیسو روزنیز مرکزنه وي، یاد کمپ به د افغان عامه نظم پولیسو قرارګاه وي او د شپږمې لوا د لومړي او دویم کنډک د عملیاتو لپاره به بنسټیزه مرکز وي. دقیوم له قوله، په دې کمپ کې به څه ناڅه ۱۳۰۰ پولیسو شتون ولري.

یاد روزنیزمرکز د امریکې د متحده ایالاتو د خارجه وزارت دپولیسو روزنیز مرکزو چې په ۲۰۰۵ کال کې پراستل شو چې پدې روزنیز مرکزکې دافغان یونیفورم پولیسو افسران روزل کیده. د یاد مرکز روزنیزې چارې د فرانسې هیواد جاندارمرۍ، اسپانیاوې ګوردیه، پولنډ او د ډین کورپ کمپنۍ سلاکارنو لخوا پرمخ وړل کیده.

یاد روزنیز مرکز کې ۵۵ ودانۍ دي چې د تلویزون او کمپیوټرونوپه شمول، ایرکنډیشن هم پکې شاملې دي چې له دې وروسته ددې مرکز چارې به پرته په افغانستان کې دناټو روزنیزماموریت ملاتړ څخه افغانان پرمخ بیایي.

د لیږدوني بهیرچې د جنورې دمیاشتې په نیمایي کې پیل شوی و، شامل دي له قدرونو او نور پرسونل چې دوی به د وسایلو او د ودانیو تسلیمې چارې ترسره کړي.

ورته لړۍ به په نورو روزنیزو مرکزونوکې هم پیل شي چې ټولې چارې به یي افغانان په غاړه واخلي او یابه د ۲۰۱۲ کال څخه وړاندې بند شي.



په افغانستان کې دناټو روزنیزماموریت ژباړونکې د افغان عامه نظم پولیسو ته د سیمه ایزه روزنیزمرکز دوسایلو د تسلیمې شمیرې د افغان عامه نظم پولیسو افسر عبدالقیوم ته د ښرګندونې پرمهال.

# دجنایي جرمونو پروړاندی د مبارزی ریاست دا منی چی ښځینه حقوقی سلاکارنو ته اړتیا شته دی.

راپور: افسر کوری روز

کابل، افغانستان- د افغان ملی پوځ ښځینه حقوقی سلاکارانو ته د جنایي جرمونو پروړاندی مبارزی دفتر لپاره دقضایي څانګی مسول دفتر لپاره اړتیالری.
دافغانستان د دفاع وزارت په حقوقی ریاست کی د حقوقی پراختیا لپاره داتلافی ځواک سلاکاران افغانانو سره په ګډه کار کوی، دوی د می دمیاشتی د ۲۶ نیټی ویدیوګانی او دمعلوماتوخبرپاڼی جوړوی ترڅو د افغان ملی پوځ په حقوقی څانګه کی د بیلابیلو دندو په اړه معلومات او راپورنه راټول کړی.
دکاناډا هیواد د حقوقی دفتر څخه جګړن کوری موری وویل، " د ویدیو او دمعلوماتی اعلانات به په حقوقی ښوونځی کی استعمال شی چی دا کار به د افغان ملی پوځ هغه دندی په ډاګه کړی چی دوی یی ترسره کوی.
دفترمشاوریت حقوقی نظامی
دښځینه حقوقی سلاکارانو اړتیا اهمیت هغه وخت اړین وګڼل شو چی کله په افغان کولتور کی د ښځینه د جنست توپیر د مخنیوی څخه دفاع نه کیدله.
موری زیاتوی چی، " دښځینه و له نظره ځنی تحقیقات اړین و، که چیری ښځینه حقوقی سلاکارانو شتون درلودی نو دوی کولای شو چی د هغو ښځو د حقوقو څخه دفاع کړی وی چی د جنسیت توپیر ښکار شوی وی." دا کار به د ښځینه و د جنسی تیری او د نورو موضوعاتو راپورنه په سمه توګه ترسره کړی."

دافغان ملی پوځ دحقوقی چارو غړی چی پخوا د پوځ سره یوځای شوی وای،" کله چی مونږ پوځ سره یوځای شو نه په هغه وخت کی ښځینه کارکوونکو شمیر کم وو مګر ورځ په ورځ د افغان ملی پوځ فراغت سره دښځینه و شمیر د افغان ملی پوځ په لیکوکی زیات شو. "ویدو او د معلوماتو اعلانات به د پوځی لیکوسره د نارینه او ښځینه و د یوځای کیدو شمیر زیات کړی."
ویدیوګانی او دمعلوماتی اعلانات به په ټول هیواد کی استعمال شی ترڅو د افغان ملی پوځ وړتیا غښتلی کړی او په سمه توګه د حقوقی بیلابیلو ښونځیو څخه ښځینه حقوقی سلاکارنی په دندو وګماری.
موری زیاتوی چی، " مونږ دی ته اړیتا درلوده چی ټول وسایل سره یوځای کړو چی ترڅو په سمه توګه ګمارنه ترسره شی. "دبریالیتوب شرطونه، پلان جوړونه، تقاعدونه، او دحقوقی قطعی بیا ژوندی کول دوی دی ته اړتیالری چی په سمیه ایزه توګه په هیواد کی غوره استعدادونه سره یوځای کړی."



دکاناډا هیواد څخه د حقوقی چارو مسول افسر کوری موری ، دافغان ملی پوځ پوځی قضایانوسره د ګمارنی حقوقی ویدو کی د خبرواترو پرمهال.


په افغانستان کی دنا ټو روزنیز ماموریت د عامه اړیکو دفتر
http://ntm-a.com/wordpress2/archives/category/uncategorized/pashto